د جمعې خطبې لاربنود مؤرخ: ۱۴۴۳/۷/۹هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۱۱/۲۲هجری شمسی

# د اوبو او بریښنا په استعمال کې له اسراف او بې انصافۍ څخه ځان ساتل

الحمدلله الذي اصبغ علينا نعمه ظاهرة و باطنة ونهانا عن الاسراف والتبذير، رضينا بالله رباً وبالإسلام دينا وبمحمد –صلى الله عليه وسلم– رسولاً ونبيا. اما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:{وكُلُواْ وَاشْرَبُواْ وَلاَ تُسْرِفُوٓاْ إِنَّهُ لاَ يُحِبّ الْمُسْرِفِينَ}الأعراف:۳۱

**د اوبو اهمیت:**

اوبه د ژوند لپاره د هوساینې، ترقۍ او اسائش وسیله ده که چیرې اوبه نه وي او یا هم اوبه د زمکې له سطحې څخه ښکته لاړې شي؛ پرته له الله جل جلاله بل هیڅوک په دې قادر نه دی چې اوبه را پیدا کړي او یا یې د زمکې سطحې ته را اوچتې کړي.

الله تعالی فرمایلي دي:{قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَاء مَّعِينٍ}الملک:(۳۰)

**ترجمه:**ای محمد(صلی الله علیه وسلم) دوی ته ووایه! آیا تاسو لیدلي دي که چیرې ستاسو اوبه په زمکه کې ښکته لاړې شي، (پرته له الله تعالی) بل څوک شته دی چې تاسو ته د زمکې په سر بهیدونکي اوبه را پیدا کړي؟

په بل آیت شریف کې الله تعالی فرمایلي دي:{أَوْيُصْبِحَ مَاؤُهَاغَوْرًا فَلَن تَسْتَطِيعَ لَهُ طَلَبًا}الکهف:(۴۱)

**ترجمه:** او یا یې اوبه په ښکته لاړې شي او بیا هیڅکله ته هغه اوبو ته لاسرسی ونه لرې.

خو که چیرې خلک د الله تعالی اطاعت وکړي او د هغه پر دین ثابت پاتې شي ، الله جل جلاله به ورته په نعمت کې خوږې اوبه ورکړي. الله جل جلاله فرمایلي دي:{ وَأَلَّوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَاهُم مَّاء غَدَقًا}الجن:(۱۶)

**ترجمه:** او که چیرې دوی (انسانان) په سمه(هدایت) لاره ثابت پاتې شول، خامخا مونږ به یې په زیاتو اوبو سره خړوب کړو.

**اوبه د پایښت، هوساینې او د انسانانو د ژوند وسیله ده.**

اوبه د ژوند ددوام وسیله ده، د هستۍ د پیدایش او دوام منشأ ده. د قرآن کریم د آیتونو له مخې اوبه دټولو موجوداتو مبدأ ده. الله تعالی فرمایلي دي:{وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاء كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ}الانبیاء: (۳۰)

**ترجمه:** او کرځولي دي مونږ له اوبو څخه ټول شیان ژوندي، بیا دوی ولې ایمان نه راوړي؟!

اوبه یواځې دا نه چې ژوند ښېي ؛ بلکې د هر ژوندي څیر اصل اوبه دي . په قرآن کریم کې د اوبو څخه د الهي نعمت په توګه یادونه شوی ده او په کار ده چې د الهي نعمت شکر په ځای راوړل شي. الله جل جلاله فرمایلي دي: {اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاء كَيْفَ يَشَاء وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ فَإِذَا أَصَابَ بِهِ مَن يَشَاء مِنْ عِبَادِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ}الروم: (۴۸)

**ترجمه:** (الله) هغه ذات دی چې هواګانې او بادونه را لیږي او بادونه وریځې را اوچته وي بیا الله تعالی وریځې په آسمان کې خپروي څرنګه چې یې خوښه شي او ګرځوي یې ټوټې ټوټې ته به وینې باران لره چې راوزي د منځ د وریځو څخه، کله چې ورسوي باران هغه چاته چې خوښه یې شی له بندګانو څخه بیا هغوی خوشحالیږي د باران په وریدلو سره .

اوبه د ټولو موجوداتو د ژوند لپاره لومړنی بستر دی، د ونو، بوټو او وښو ژوند یواځې په اوبو پورې تړلی دی.

اوبه پرته له دې چې د ژوند لپاره مهمې دي، تعبدي اړخ هم لري، هغه داسې چې په اوبو سره مونږ بدن ، کالي او د لمانځه ځای دهر ډول خیرو او کثافاتو څخه پاکوو او وینځو او بیا د الله تعالی عبادت کوو. الله تعالی فرمایلید دي:{وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّن السَّمَاء مَاء لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ}الانفال:(١١)

**ترجمه:** او را نازلوي په تاسو له آسمان څخه اوبه ددې لپاره چې تاسو وربانديې پاک کړي( خیرو او چرکونو څخه).

د اسلام د سپیڅلي دین په لارښوونو کې د اوبو اسراف حرام عمل ګڼل شوی دی او ددې کار څخه يې منع کړی ده، د قرآن کریم په آیاتونوکې او د پیغمبرعلیه السلام په بې شمیره آحادیثو کې په ډول ډول تعبیرونو سره عموما په هرکار کې اسراف کول غندلي دي او ورڅخه یې منع کړی ده. الله جل جلاله فرمایلي دي: {وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلاَ تُسْرِفُوا اِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ} الاعراف: (٣١)

**ژباړه:** وخورئ، وڅښئ، خو اسراف مه کوئ، ځکه الله تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي.

اسراف بېلابېل مثالونه لري لکه: په خوراک او څښاک کې اسراف، د برق او بریښنا په استعمال کې اسراف او په ورځنیو چارو کې د اوبو ډېر استعمال او په بې انصافی سره اوبه مصرفول، حتی د اوبو بې ځایه او له حاجته زیاتې مصرفول ولو که په عبادت کې هم وي، سم کار نه دی په همدې اساس په یو حدیث شریف کې داسې راځي: ( عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ، وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ: «مَا هَذَا السَّرَفُ» فَقَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ إِسْرَافٌ، قَالَ: «نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهَرٍ جَارٍ» سنن ابن ماجه

**ژباړه:** له حضرت عبدالله ابن عمرو رضی الله څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاره تېرېده چې سعد رضی الله عنه اودس کولو پیغمبرعلیه السلام ولید چې سعد رضي الله په اوداسه کې زیاتې اوبه استعمالوي ورته يې وفرمایل: ای سعده! اسراف مه کوه. سعد رضي الله وویل: یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) آیا په اودس کې هم اسراف شته؟ پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل: بلې ! په اودس کې هم اسراف شته، د اوبو په استعمال کې اسراف مه کوه ولو د روان نهر په غاړه هم اوسی.

په دې حدیث شریف کې وینو چې داسلام مبارک دین حتی په اودس کې هم له حاجت څخه د زیاتو اوبو مصرفول او هغه په بې انصافی سره ضائع کولو څخه منع کړی ده.

ددې حیاتي عنصر څخه حفاظت او ساتنه په مختلفو بڼو سره د نباتاتو، حیواناتو او انسانانو د ژوند د ساتنې او دوام بنسټ جوړوي. بناءً ددې دیني قاعدې په اساس چې ( ما لا یتم الواجب الا به، فهو واجب) هر هغه څه چې واجب حکم په هغه پوری تړلی وي، هغه هم واجب ګرځي. د اوبو حفاظت هم واجب عمل دی، ځکه چې اوبه د ژوند بنسټ دی.

هرڅوک چې ددې ارزښتناکه عنصر حفاظت کوي په حقیقت کې خپله دیني وجیبه ادا کوي یعنې ددې حیاتي عنصر ساتنه واجب ده. هرهغه عمل چې ددې عنصر د لمنځه وړلو او ضائع کولو، آلوده کولو سبب ګرځي په حقیقت کې خپل ژوند د ویرانی او معطل کولو سره مواجه کول دي، ځکه آوبه دي چې د ژوند اساس تشکیلوي. اوبه من حیث ددې چې د ژوند اساس دی ، الله تعالی د اوبو څخه استفاده د انسانانو او نورو مخلوقاتو مشترک حق ګرځولي دي.

ټول مخلوقات پرته له انحصار، لوټ،ضایع کولو یا ناوړه ګټې اخیستنې، ددې حق لري چې د اوبو څخه ګټه واخلي . الله تعالی د ثمودیانو او دهغوی د اوښې په باره کې فرمایلي دي:{وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاء قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ}القمر: (٣١)

ترجمه: او دوی ته خبر ورکړه چې اوبه ددوی او د اوښې ترمنځ ویشل شوی دي.

همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (المسلمون شرکاءٌ فی ثلاث ،فی الماء والکلاء والنار)سنن ابی داود

**ژباړه:** مسلمانان په دریو شیانو کې شریک دي: اوبه، څرځای او اور.

الله جل جلاله فرمایي: {قُلْ أَرَأَيْتُمْ اِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَاء مَّعِينٍ} الملك: (٣٠)

**ژباړه:** ورته ووايه! آیا تاسو ولیدل چې که ستاسو اوبه د زمکې په سطحه کې ښکته ډوبې شي، څوک شته چې هغه د زمکې په سطحه باندې جاري کړي؟.

له دې آیت څخه څرګندېږي چې د اوبو تأمینول د الله تعالی په اختیار کې دي، په دې اساس ویلای شو چې ایمان او تقوا د خیرازی او رزق د ډېرېدو لامل ګرځي او انسان ددې حق نه لري چې داسې کړنه وکړي چې د اوبو د کمښت لامل شي، ګناهونه او معصیتونه هم د وچکالی او د الله تعالی د رحمت د بندیدو سبب ګرځي.

لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مهاجرینو ته وفرمایل:( یامعشر المهاجرین خمس إذا ابتلیتم بهن وأعوذ بالله أن تدرکوهن لم تظهر الفاحشة في قوم قط . حتی یعلنوا بها إلا فشا فیهم الطاعون والأوجاع التي لم تکن مضت في أسلافهم الذین مضوا، ولم ینقصوا المکیال والمیزان إلا أخذوا بالسنین وشدة المئونة وجور السلطان علیهم ، ولم یمنعوا زکاة أموالهم إلا منعوا القطر من السماء ولولا البهائم لم یمطروا...) سنن ابن ماجه

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای د مهاجرینو قومه! پنځه صفتونه دي چې کله تاسو وربانديې اخته شی- او زه په تاسو کې د هغه له موندلو څخه په الله جل جلاله پناه غواړم-، په هیڅ قوم کې زنا نه کیږي مګر داچې طاعون او داسې مرضونه به په کې خپریږي چې ددوی په پخوانیو قومونو کې نه ؤ تیر شوي. پیمانه او ترازو کې به کمی نه کوي ؛ مګر داچې په قحطۍ او سختیو او د حاکمانوپه ظلمونو به ونیول شي او وربانديې به اخته شي. او دا خلک به زکات ورکول نه بندوي؛ مګر داچې د آسمان څخه باران وریدل به وربانديې بند شي، که چیرې د څارویو دهلاکت ویره نه وای په دوی به هیڅکله باران نه ؤ وریدلی....

**مومنو ورونو!**

اوبه د انسان په ژوند کې یو له خورا بنسټیزو او اغیزمنو نعمتونو څخه دي؛ الله تعالی په بې شمیره آیتونو کې د انسان په ژوند کې د اوبو رول ته اشاره کړی ده او د اوبو پیدا کول یې د خپل قدرت د څرګندې نښانې په توګه بیان کړی ده او فرمایلي یې دي (دهغه اوبو په اړه چې تاسو یې څکی فکر وکړئ) دا تازه اوبه مونږ ملګینې ګرځوو. په دې د(باران په اوبو) سره الله تعالی ستاسو لپاره د زیتون، کجورې، انګورو او د ټولو میوو کښت پیدا کړي، یقینا دا د هغه چا لپاره زمونږ د قدرت ښکاره نښنه ده چې فکر کوي.

**ګرانو هیوادوالو او عزیزانو!**

د دې الهي ارزښت او نعمت قدر او درناوی پر مونږ ټولو لازم دی او په کارده چې ورته د قدر په سترګه وګورو، که په اسلامي فقه کې د اوبو مالکیت یو له روا عامه څیزونو څخه بلل کیږي، نو لازمه ده چې اوبه عامه شتمني وګڼو او د نورو ته ددې اجازه ورکړو چې ددې حق څخه په عادلانه او منصفانه توګه ګټه واخلي او په انصاف سره یې مصرف کړو.

**په افغانستان کې د اوبو او برېښنا د کمښت اوسنی وضعیت:**

زمونږ په هیواد کې اوبه شته، خو کمې دي، نن ورځ د اوبو کمښت چې د اقلیم د بدلون، د نفوسو د زیاتوالي او داسې نورو له امله رامنځ ته کیږي، په کور دننه او نړیواله کچه یوه لویه ستونزه ګرځېدلې ده او زمونږ هېواد هم له دې جنجالي پېښې مستثنی نه دی. له دې سره مخ دي، که مونږ د اوبو د ډېر استعمال، د اوبو د ضایع کېدو او د اوبو د ککړتیا مخنیوي ته جدي پاملرنه ونه کړو، د اوبو د کمښت وضعیت به تر دې هم بدتر شي.

مونږ او تاسو ټولو ته بهتره معلومه ده چې افغانستان یو کرنیز هیواد دی او په وچه کې راګیر هیوادډی چې بحر سره وصل نه دی. د اقلیم بدلون (نړیواله تودوخه)، لږ اورښت، د طبیعي یخچالونو ذوب کیدل، ښاري پراختیا، د نفوسو زیاتوالی، د هیواد د اوبو د قوانینو او مقرراتو نه مراعات، د پخوا په پرتله د اوبو د مصرف د ارقامو زیاتوالی او بالآخره د ځمکې لاندې اوبو څخه په بې انصافۍ اوغیرعادلانه توګه استفاده کول، یو له هغه مسائلو څخه دي چې کولای شي د اوبو کمبود په افغانستان کې زیات کړي چې ممکن په پایله کې یې د اوبو د کاروونکو ترمنځ د اوبو د شخړو ګراف ورځ تر بلې لوړ شي.

حقیقت دادی چې اوبه عامه ملکیت دی او هر څوک کولی شي د شریعت، فقهي اصولو او په دې برخه کې د ځانګړو قوانینو له مخې ترې ګټه پورته کړي، خو هغه څه چې مونږ ورته اړتیا لرو هغه د اوبو د سرچینو ککړتیا څخه ځان ساتل دي، د اوبو څخه د استفادې پروخت له اسراف څخه باید ځانونه وساتو او هم د بې ځایه او غیر ضروري مصرف څخه هم ځان وساتو او تل د اوبو په استعمال کې عدالت او انصاف په نظر کې ولرو ترڅو نور مخلوق چې په دې الهی نعمت کې یې حق لري د خپل حق څخه محروم نه شي.

د هېواد په ډېرو برخو کې د اوبو کمښت محسوسیږي او د هیواد په زیاتو برخو کې خلک په دې برخه کې له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، مونږ باید هڅه وکړو ترڅو د خلکو د پوهاوي له لارې ، د هغوی ستونزې یو څه کمې شي.

همدا راز هغه څه چې یو له بل سره تړاو لري، د برق او بریښنا موضوع ده.

زمونږ په هیواد کې لکه اوبو په څیرد بریښنا کمښت هم شتون لري باید چې زمونږ هیوادوال د بریښنا په استعمال کې د احتیاط څخه کار واخلي اود بریښنا د بې ځایه مصرف څخه ځانونه وساتي او په کار نه ده چې د غیر ضروري موخو لپاره د بریښنا وکارول شي لکه اطاقونه ګرمول او داسې نور.

**د اسراف بدې پایلې:**

**الف: ناروغتیا:** یو له هغو بدو اغیزو چې د اوبو زیات مصرف یې له ځانه سره لري ، ناروغي او د سلامتیا له لاسه ورکول دي.

**ب: د سختیو په مقابل کې سقوط:** له دې چې اسراف کوونکي په عیش او عشرت کې ژوند کولو سره عادت وي او له سختیو او مشکلاتو سره یې عادت نه وي، د ستونزو د طوفان په مقابل کې وبارندې لړزه راځي او ورسره د مقابلې توان نه لري او ژر سقوط کوي.

**ج: د نورو له حالاتو بې پروایي :** غالبا انسان چې کله په مشکلاتو کې نه وي پریوتې د نورو له مشکلاتو نه خبریږي او د نورو مشکلات ورته هیڅ اهمیت نه لري.

اسراف کوونکی انسان هم تل د نورو خلکو له اړتیاو خبر نه وي او تل د خپل ځان په فکر کې وي.

**د: له شیطان سره ملګرتیا:** د اسراف بله بده پایله د شیطان ملګرتیا او دوستي ده. الله تعالی فرمايي:{إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُواْ إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا}الاسراء: (۲۷)

**ژباړه:** بې شکه اسراف کوونکي د شیطان ورونه دي او شیطان د خپل رب نافرمانه دی.

**هـ: د الله تعالی له محبت څخه محرومیت:** اسراف بنده د الله تعالی له رحمت څخه محرومه وي.د الهي محبت څخه محرومیت دی، الله تعالی فرمايي: :{ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ}الاعراف: (۳۱)

**ترجمه:** بیشکه، الله تعالی نه خوښوي اسراف کوونکي.

د هغه چا حالت باید څرنګه وي د الله تعالی له محبت او رحمت څخه بې برخې وي؟!

یقینا داسې سړی تل په اضطراب او روحي عذاب کې اخته وي، که څه هم په مالي حالت یې ښه وي.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**